مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۱/۰۳/۰۲

# عبدالله غمخور

## د فکرونو او رنګونو شاعر



دا شاعران هم د کمال خلک دي. ځینی د خط او خیال، سرو شونډو، اوږدو زلفو، دنګو چنارونو او رامبیل چمبیل ساندې غږوي. څوک د یتیمو اوښکو، څیري ګریوان او ناترسو سلګیو ویر لمانځي او څه بیا داسی وي چې د خپل ولس د بیدارۍ او د غلیم د رسوایۍ غمونه یې په سر انبار کړي وي. همدغه شاعران، ساده او کلیوالې محاورې په داسی ښکلو جملو کې راونغاړي چې د هنرمندانو په زرینو حنجرو کې سندري شي. د ادب په بنډارونو کې یې اثر دومره ژور وي چې ساقي او میکده یې پارسنګی هم نه وي. ځوانان مست کړي په اتڼ شي، پیغلې چمبې راواخلي په نڅا شي. د مینانو له سترګو اوښکې وبهوي، د مظلومانو فریادونه په حرفونو کې انځور او توپانونه جوړ کړي او د تصوف او خانقاه ذاکرین لا زیات منزوي او د انقلاب بچي نور ډیر انقلابیان کړي.
یو له هغو شاعرانو څخه چې شعر یې هم طرب دی، هم ساز او هم اواز. هم فکرونه دي او هم رنګونه، په کلیواله ژبه د ولس درد انځوروي او غږ یې د خلکو غوږونو ته رسوي، عبد الله غمخور دی. اروابښاد په ۱۳۰۳ هجري لمریز کال کې د کونړ د اسمار ولسوالۍ په بارګام کې د حاجي عبد الودود سالارزي په کور کې زیږیدلی دی. پلار او کاکا یې چې حاجي عبد الرحمن نومیده، د خپلواکۍ د جګړې په څلورمې جبهې (د بریکوټ او چترال محاذ) کې ستره برخه اخیستې وه. همدارنګه دغو دواړو ورونو او د سالارزو جنګیالیو، د پیرنګیانو خلاف د باجوړ او مومندو په مختلفو غزا ګانو کې هم ګډون کړې وو. د شعر سره د غمخور مینه او د نظمونو د لیکلو ادبي تنده یې له زلمیتوبه په ذهن او زړه کې تنستې غزولې وې او په شاعرۍ کې یې ولسي رنګ او قومې جذبه پرته وه.
عبدالله غمخور په ۱۳۳۳لمریز کال کې د کابل د پښتو ټولنې د ادبیاتو د څانګې مدیر او یو کال وروسته د کابل راډیو د پښتو ادبیاتو څانګې د خپرونې چارې ورته وسپارل شوې چې تر ۱۳۴۸ کال پورې یې دوام وکړ. همدغه کال یې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د وطن په نوم یوه ترانه ولیکله چې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له خوا ورته تقدیر نامه او انعام ورکړل شو. یو کال وروسته د ننګرهار د ورځپاڼې مدیر او بیا د ننګرهار د قبایلو لوی مدیر وټاکل شو. په ۱۳۵۵ لمریز کال کې د اسمار ولسوالی له خوا د لویې جرګې غړی وټاکل شو او رسمي دنده یې پریښوده. کله چې روسانو په افغانستان باندی لوځ یرغل وکړ نو د خپلې کورنی سره یې پیښور ته هجرت وکړ او لږه موده وروسته د جهاد په نیت، بیرته کونړ ته لاړ ځکه هغه د کمونیزم خلاف جهاد او د وطن د خپلواکې په لاره کې سربښندنه د خپل ایمان برخه بلله. ارواښاد غمخور د حضرت صبغت الله مجددي په تنظیم کې د مشاور، د اجرائیه شورى د غړي او د ملي یوالي د تفاهم د رئیس په توګه کار کړېدی.
عبدالله غمخور د افغاني کلتور، پښتو ژبې او د خپل ولس د سوکالۍ او خپلواکۍ په خاطر، تل له قلم څخه کار اخیستی او هغه یې د ژوندانه د ازغني لارې په کړلیچونو کې د زړه تسل او تم ځایونه ګڼل. د هغه ګڼ شمیر نظمونه، لیکنې او مقالې د هیواد په مختلفو ورځپاڼو او مجلو کې چاپ او د کابل راډیو د پښتو خپرونو د ځانګې له لارې خپرې شویدي. مرحوم نه یواځی د کونړ په شاعرانو او ادیبانو کې یو شمله ور او سترګه ور شاعر وو، بلکې نوم یې د لرو او برو پښتنو په حجرو او دیرو کې وخت ناوخته د هنرمندانو په حنجرو کې اوس هم زمزمه کیږي. د هغه د زړه کړیکې او د قلم لیکې د خپل ولس د دردونو او غمونو څرېکې انځوروي او د ژوبل احساس فریاد یې د آزادۍ د پیغام، رسا غږ وو. غمخور یو ځل د شهید صدراعظم، موسی شفیق د لیدلو لپاره د هغه دفتر ته لاړ او له ډیر انتظار وروسته بیا هم موفق نه شو چې ور سره وګوري، نو یو شعر یې ولیکه او د هغه سکرتر ته یې ورکړ چې یوه برخه یې په دې ډول دی:

ډیر راباندې ګران یې، خو اوس ستا لیدل ګران شویدي
یاره مهربانه چې دا څه دربانډې شویدي
ته د ژمي لمرشوې، په آسانه ښکاره کیږې نه
سترګو ته نظر شوې خو په سترګو لیدل کیږې نه
ستړې شولې خولې، په تپوسونو پیدا کیږې نه
سحر که جادو دی، که توټکې دربانډې شویدي
ته د ښاره ووتې، د نرخه چې ونه وځې
ته د آسمان ستورې شوې، آسمان ته رسیدل ګران دي
ډیر راباندې ګران یې، خو اوس ستا لیدل ګران شویدي

کله چې صدراعظم، شهید شفیق لږ وزګار شو نو سکرتر یې دغه شعر په میز باندې ورته کېښود خو بیا ډیر ناوخته وو. په چټکې سره یې د کابل راډیو رئیس ته امر وکړ چې قمرګله را وغواړي، دغه شعر په موسیقي کې کمپوز او بیګا له یې خپور کړي. که په درنو لوستونکو کې څوک د سندرو شوق لري، نو دغه سندره دی د حضرت ګوګل بابا په دربار کې دی ولټوي، فکر کوم چې په یوټیوب کې شته. لویه هنګامه، یادونه، زخمي زړه، د آزادۍ غوغا، د ثوري په مخ، د کابل اوښکې، د غمخور کلیات او د ضمیر آواز هغه ادبي شاهکارونه دي چې له مرګ وروسته یې د پښتو ژبې او پښتنو نوي کول ته په میراث پریښي دي.
ارواښاد غمخور په ۱۹۹۹م کال کې غالبا د اپریل میاشت وه، زموږ دفتر (د سهار خبري آژانس او ورځپاڼې) ته راغی چې د قیصه خوانی بازار کې د پولیسو تانې ته مخاخ په دریم منزل کې وو. له مختصرې پيژندګلوی وروسته، دغه درونډ مشر د خپل واسکټ څخه د اشعارو څو پاڼې را وویستلې او ما ته یې راکړې. دغه مهال زما محترم دوست، محمد زبیر شفیقي د سهار د ورځپاڼې او زه د خبري آژانس مسئول وم. له پیښوری قهوې وروسته مو ورسره مخه ښه وکړه او په ویاړ سره مو د هغه اشعار په سباني خپرونه کې نشر کړل.
د ملي فکر او ژور احساس دغه څښتاند انسان د ۱۳۸۸ لمریز کال مرغومي د میاشتې په څلور ویشتمه نیټه د پیښور د حیات آباد په رحمان روغتون کې د زړه د ناروغی له امله خپله ساه، د ارواو خالق ته وسپارله. د دغه لیکوال، شاعر او سیاستوال جنازه، د کونړ بارګام ته انتقال او په خپلې پلرنۍ هدیرې کې خاورو ته وسپارل شوه. ارواه یې ښاده او یاد یې تل تازه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ